پوهندوی آصف بهاند

# د عبدالمالک بېکسیار فکري میراث



موږ چي لا لهپخوا نه د غمونو په زانګو کي زنګول شوي یو، د خوښۍ یوعادي پرق او غږ ته هم ځنې اړوو او خوښي ورته کوو، نن همداسي یوهورځ ده. نن زموږ د فرهنګي ملګري عبدالمالک بېکسیار د کتابونو د مخکاته ورځ ده او زه یې د جشن او خوښۍ ورځ ګڼم.

د کتابونو د مخکاته په پلمه فرهنګیان او د نظرخاوندان، د مؤلف یا شاعر ځانګړي ملګري سره راټولېږي او د خوښیو په څپو کي د شاعر/ لیکوال او د هغه/ هغي د ترسرهکړو فرهنګي کارونو او د نوو چاپشوو اثارو ښیګڼي یادوي او محفل په ټول کي د خوښۍ او مثبتو نظریاتو ټولګي ته ورته وي.

دا محفل د بېکسیار د دغو نویو چاپ شوو کتابونو په پلمه جوړ شوی دی:

ــ د چغوڅکه،

ــ وسواس،

ــ شرم له سپي (چکرنامه).




زه بېکسیار صاحب ته د نويو چاپشويو کتابونو مبارکي وايم، خپله بريا او خوشحالي يې ګڼم، خو تراوسه مې ياد نوي اثار ليدلي نهدي، ځکه يې د شکل او محتوی په باب څه نهشم ويلی، خو درانه دوستان دې داسې نهانګېري چې زه به د بېکسيار د فرهنګي شخصيت يا فرهنګي پرودوکشن په باب څه نه وايم.

ما د عبدالمالک بېسکيار پر شعر باندې، د ده پرژباړو باندې او ځينو نورو داسې فرهنګي کارونو باندې مقالې ليکلي دي چې شايي ډېری خلک لا پرې خبر هم نهوي.

ما تراوسه د بېکسيار د فرهنګي شخصيت په باب دا لاندې مقالې ليکلې دي:

ـ د بېکسيار د ډک زړه ځپي
(د عبدالمالک بېکسيار د ژوند او شاعری لنډ جاج)،

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Bahand_a_be-kasyar1.pdf

ـ ډنمارکی ژبې ته د بېکسيار د شعرونو ژباړې «د هندارو سيوري Spejlenes skygger»،

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Bahand_a_pashto_na_danmarky_ta1.pdf

ـ د ډنمارک په تعليمي نصاب کې د پښتو شعر پل (نړيوالې کيسې).

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_zwandy_yadoona2_ketab22.pdf

ما د بېکسيار په باب د خپلې يوې ليکلې مقالې په ترڅ کې يولنډ بحث کړی دی چې هغه ته بايد د بيسکسار د هغه وخت بيليوګرافي وويل شي. هلته ما د څېړنې د اصولو له مخې دې ته اشاره کړې ده چې ترما مخکې د بيکسيار د ژوند او فرهنګي شخصيت په باب چا څه ليکلي دي. په هغو کې ما هغه کسان ياد کړي وو چې د بېکسيار په باب يې ليکنې زما له نظره تېرې شوې وې. په خپله ياده مقاله کې ما داسې ليکي وو:

«د بيکسيار پر کلام او افکارو باندې تر دې کرښو وړاندې نورو د نظر خاوند فرهنګيانو هم خپل نظرونه ليکلي دي، زما له نظره دا لاندې ښاغلو او آغلو ليکنې تيرې شوي دي:

**ـ نورالبشر نوید،**
(«د بیکسیار سوچونه او کړلیچونه»، د سوچونه او کړلیچونه شعري ټولګه مقدمه، الف مخ)

**ـ سید صابرشاه صابر،**
(«د ډنمارک پښتون شهزاده»، د سنځل ګل په شپو کې شعري ټولګه، د پشتي دویم مخ)

**ـ اسماعیل یون**
(«بېکسیار د بې هویتۍ په دریاب کې، د هویت ډیوه»، د سنځل ګل په شپو کې شعري ټولګه، د مقدمې لومړی مخ،)

**ـ صفیه صدیقي**
(«د سنځل ګل په شپو کې، یو ښکلی نوم ـ څو ښکلي شعرونه»، د سنځل ګل په شپو کې شعري ټولګه، د مقدمې اتم مخ)

**ـ ممتاز ارمان،**
(د بیکسیار لنډه پېژندنه، د سنځل ګل په شپو کې، څلورمه پښتي)

**ـ اجمل اند،**
(«باد د شینشوبو بوټی لړې، لړې»، (هیله مجله، پرلپسې اتلسمه ګڼه، دریم کال، ۴۶۲ مخ)

د سویډن په مالمو ښار کې د بیکسیار او نجیبه سارا بیاباني د لمانځغونډې په ترڅ کې، اجمل اند د بیکسیار پر شاعرۍ مفصلې خبرې وکړې.

**ـ انجنیر ګلمانشاه ودیر صافي،**
د سویډن په مالمو ښار کې د بیکسیار او نجیبه سارا بیاباني د لمانځغونډې په ترڅ کې ښاغلي ودیر صافي د بیکسیار مفصل ژوند لیک وړاندې کړ.

او...»

(بهاند آصف، ژونديیادونه، خپرندوی: په خپله لیکوال، د خپرېدوځای: ډنمارک، ۲۰۲۵ ام کال جنوري، ۱۴۷مخ)

تر دې وروسته هم کېدای شي د بېکسیار د ژوند او قلم په باب نورو قلموالو هم څه لیکلي وي، چې نه لیدل یې زه خپل قصور ګڼم؛ تر ټولو ښه بېلګه یې چې زما له نظره تېره شوې ده، د نعمت‌الله صدیقي «د «نا ویلو» خبرو لیکوال» ترسرلیک لاندې مقاله ده چې د ۲۰۲۵ ام کال د اګست پر شپږمه په تاند کې انلاین شوې ده.

په اوسني بحث کې غواړم تاسو درانه حاضرین او لوستونکي لومړی پردې خبره خبر کړم چې بیسکیار د ډنمارک په تعلیمي نصاب کې د پښتو شعر پل ته لار پرانستلې او وروسته تر هغه د بېکسیار د شعر یولنډ جاج وړاندې کړم.

## د ډنمارک په تعلیمي نصاب کې د پښتوشعر پل:

عبدالمالک بېکسیار په ډنمارک کې د خپلو اوسېدو او ژوند کولو په موده کې د نورو فرهنګي خدمتونو تر څنګ توانېدلی دی چې د یو شمیر ډنمارکي فرهنګیانو په مرسته د پښتو شعر بېلګې د پښتو لنډیو څو بېلګې د ډنمارک د تعلیمي نصاب په یوه مرستندی درسي کتاب کې د ډنمارکیانو له پاره ځای پر ځای کړي.

دا مرستندوی درسي کتاب «verdenshistorie» (نړیوالي کیسي) نومبړي چې په ۲۰۰۹ ام کال کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې له افغانستان څخه د ښاغلو: استاد صدیق پسرلي او پیرمحمد کاروان د کلام یوه ـ یوه بېلګه او د لنډیو شپږ بېلګې له ډنمارکي ژباړې سره راوړل شوي دي.

د شعرونو او لنډیونو انتخاب او توزیحات یا پېژندنه او مقدمه هم ښاغلي عبدالملک بېکسیار په ډنمارکي ژبه ورته لیکلي ده. د نورو معلوماتو له پاره وګورئ:
«بهاند آصف، ژوندي یادونه، دویم ټوک، په انلاین بڼه د خپرېدو نېټه: د ۲۰۲۳ ام عیسوي کال فبرورۍ میاشت، خپرونکی: افغان جرمن پورټال، ۵۱ ـ ۷۷ مخونه»

## د بېکسیار شعر ته یوغلچکی نظر:

کومه‌مقاله چې په ۲۰۱۸ ام کال کې د « د بېکسیار د ډک زړه څپې» ترسرلیک لاندې ما د بېکسیار د شعر پر شکل او محتوی باندې لیکلې او خپره کړې ده، د هغې مقالې په پیل کې داسې راغلي دي:

«... وروسته له ډېرو کلونو دا دی بېکسیار، له ما سره د یارۍ یا وطنداری تار وپاله او په یوه محفل کې یې خپلې دوې شعري ټولګې:

ـ لکه خوب هغه وختونه،

ـ د څپو چې زړه را ډک شي.

په ډېره مینه راکړې. زه هم په لا ډېره مینه ورته کېناستم، بیکسیار مې په خیال کې په څنګ کې کېناوه، له پیل نه تر پایه مې په شاعرانه احساس او مینې سره یادې شعري ټولګې له نظره تېرې کړې.

د دواړو شعري ټولګو له پاره ښکلې او شاعرانه سرلیکونه غوره شوي دي چې د ټولګو له محتویاتو سره پوره اړخ لګوي. **د بېکسیار دا دوې شعري ټولګې د پښتو ژبې او پښتو شعر په بداینه کې ارزښتمن رول لوبولی شي او د پښتو شعر په خزانه کې یې دوه نور لالونه ګنم.»**

(بهاند آصف، ژونديیادونه، خپرندوی: په خپله لیکوال، د خپرېدوځای: ډنمارک، ۲۰۲۵ ام کال جنوري، ۲۳۶ ـ ۲۶۹ مخونه)
https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Bahand_a_be-kasyar1.pdf

ما د بېکسیار د شخصي او فرهنګي ژوند او سبک په باب ویلي دي:

بېکسیار د خپل ورځني ژوند، شعر او خبرو کولو یو ځانګړی انداز او جلا سبک لري چې په بل چا کې نه دی لیدل شوی، ټُورت او سپین سپیڅلی غږېږي، په خبرو کې د ډېر بندیز پلوي نه‌دی او دومره د چا خیال نه ساتي، څه یې چې په زړه کې وي، مخامخ یې وایي، اوس د ډنمارک په کوپنهاګن ښار کې اوسیږي، په فرهنګي چارو کې فعال او مطرح شخص دی او د پښتو شعر او ادب د لا غوړېدو په پار، د «پانوس» له پتنګانو سره وزرې ښوروي.

د بېکسیار د همدې کتابونو د چاپ په درشل کې له ما نه وغوښتل‌شول چې د بېکسیار د شعر په باب خپل نظر څرګند کړم چې دوی یې بیا د بېکسیار د کومې شعري ټولګې په مقدمه کې د نورو نظریاتو په ملتیا خپروي؛ ما یوڅه ولیکل، څو کرښې یې دا دي:

«... بېکسیار د میدان‌ښار له «زیبوداغه» د ډنمارک تر کوپنهاګن پورې راورسید، خو د میدان ښار د سنځل‌ګل جمال و کمال و بڼه بوی یې هېر نه کړ، تراوسه هم ځان د همغو وطني سنځلو ترسیوري لاندې یو شډل کلیوال پښتون ګڼي او د سنځل‌ګل بوی یې اوس هم شعرلیکلو ته هڅوي. د بېکسیار شاعري، د پښتو ژبې او پښتو شعر په بداینه کې ارزښتمن رول لوبولی دی، ما ته د بېکسیار هره

شعري ټولګه، د پښتو شعر په خزانه کې د جلا ـ جلا لالونو حیثیت لري. ښکسیار په خپل شعر کې خپل فکر او هویت په سمه ټوګه ځلولی دی، ښکسیار د خپل ورځني ژوند، شعر او خبرو کولو یو ځانګړی انداز او جلا سبک لري چې په بل چا کې نه دی لیدل شوی، بیکسیار د مطالعې له ښه قوي بګروند سره، په پخوانیو او نویو شعري قالبونو کې له نوښتونو سره، نوې تجربې کړې دي.»

د ښکسیار «لکه خوب هغه وختونه» شعري ټولګه چې ما لوستله په لومړي ګام کې مې هغه شعري انځورونه په نښه کړل چې یا ما ته نوي وو او یا مې د دې له پاره ډېر خوښ شول چې بیکسیار په نوې بڼه او خپل ستایل کارولي دي. د یادو انځورونو څو بیلګې دا دي:

**«ـ د چا له یاد سره غږیدل،**

**ـ د خیال د خونې ځنځیر،**

**ـ په کوڅه کې د اشنا خیال،**

**ـ د کوترو بنډار،**

**ـ د شوتلې وږم،**

**ـ ونې ته ژړل،**

**ـ د ناوې شپیلی (د اوبو ناوه)،**

**ـ د سنځلو د ګل ګونګه ترانه،**

**ـ د وږمې ښکالو،**

**ـ ښاخ له باد سره غږېدل،**

**ـ د وړانګو سیالې،**

**ـ مړاوې کاته،**

**ـ د موسکاوو جنازه،**

**ـ د وسواس دروازه،**

**ـ هوس ته قیضه اچول،**

**ـ د احساس مالګه،**

**ـ د غم تربور،**

**ـ د کرکې ښار،**

**ـ د زړه په کور کې فریاد میلمه کول،**

**ـ په توبو کې د اور شیندل،**

**ـ رنګړی پل،**

**ـ مات سیوری،**

**ـ پر ښکلو باندې عریضه کول،**

ـ د کتاب زړه،

ـ د مسک نظر باران،

ـ د ځوانیمرګو هیلو لو،

ـ خیال د غره پر سر دېره کول،

ـ د ممانو جنازې،

ـ د باغ وروستۍ سلګۍ،

ـ د پاڼو جنازې،

ـ د زانو جنازې،

ـ رنګړی سیوری،

ـ د اوښکو زلزله،

ـ د زړه بازار،

ـ د هجر سیلۍ،

ـ د سترګو د غزل مقدمه،

ـ «د وچ لښتي د اوبو ګونګه زمزمه لیکمه...»،

د ردیفونو اوږوالی د ښپکیار د شعرونو بله منحصر په فرد ځانګړنه چې یا د اوسنیو شاغرانو په شعرونو کې بیخي نه‌شته او یا د ګوتو په شمار ده.

اوږده ردیفونه د پخوانیو شاعرانو په شعرونو کې ډېر لږ لیدل شوي دي. یوه بیلګه یې ما لا پخوا د خوشال پـیـژندنې د مضمون د تدریس په وخت کې په نښه کړې وه، دا یې دوه بیتونه دي:

لـه حالـه یې خبر شه! کـه شته ـ شته، که نه شته، نه شته
قـلاش و قـلـنـدر شه! کـه شته ـ شته، که نه شته، نه شته

کــه لـــږه ده کـــه ډیـــره، واړه ونـیـســه پـــه تــېــره
په خوی د پیغمبر شه! که شته ـ شته، که نه شته، نه شته

(خټک خوشال، د خوشال خان خټک کلیات، اوونه ـ پرتلنه ـ سمون او ویپانګه د عبدالقیوم زاهد مشواني، خپرندوی: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ ل / ۲۰۰۵ ز کال، ۲۰۰ ام مخ)

دا د ښپکسیار د اوږدو ردیفونو دوې لنډې بېلګې دي:

بیرته به اسمان شي شین، زړه ته خو مې نه لوېږي
بیا به هغه شان شي شین، زړه ته خو مې نه لوېږي

شـاړو د امـید کـې بــه، ډښـتـو د حـسرت کــې بــه
بـیـا کله ارمان شي شین، زړه ته خو مې نه لوېږي

(لکه خوب هغه وختونه، ۷۵ ام مخ)

اوس هغه اور نه په رباب نه په نغمه کې شته دی
د مینې شور نه په رباب نه په نغمه کې شته دی

د یار په یو وار سندریز کاته کې څومره جوتې
هومره ټکور نه په رباب نه په نغمه کې شته دی

(لکه خوب هغه وختونه، ۸۱ ام مخ)

بېکسیار د خپلو نورو نوښتونو ترڅنګ، په قافیه کې هم نوښت کړی دی. ده په قافیه کې داسې یو نوښت کړی دی چې ما یې تر اوسه بیلګه چېرې لیدلې نه ده. د ده په «لکه خوب هغه وختونه» ټولګه کې د «ته را په یاد» ترسرلیک لاندې د شعر داسې یوه بیلګه راغلې ده چې د شعر د هر بیت لومړی نیم بیتی، د شعر تر پایه د ټولو بیتونو د لومړیو نیم بیتیو سره همقافیه دی. دغه راز د شعر د لومړي بیت دویم نیم بیتی، د شعر تر پایه د ټولو بیتونو له دویم نیم بیتي سره هم قافیه دي. زه دا یونوې ادبی صنعت ګڼم، باید د ادبي فنونو استادان یو نوم ورته وټاکي. دا د یاد شعر بشپړ متن دی:

## «ته را په یاد»

ته را په یاد ستا د لومړي دیدن شیبې را په یاد
لکه د سرې اور پټ، پټ راته ځیګر مې سیزي

ته را په یاد د تا د مینې مرحلې را په یاد
غواړم درواوزم، حالات راته وزر مې سیزي

ته را په یاد راته د کلي هنګامې را په یاد
قسم تر اوسه هر سبا هر مازدیګر مې سیزي

ته را په یاد، د ګودر لارې او کوخې را په یاد
سوځ د سپیرو، سپیرو کوڅو خیال د ګودر مې سیزي

ته را په یاد، د تا کاته جوتې، جوتې را په یاد
لکه لمبه، لکه انګار او لکه لمر مې سیزي

ته را په یاد، د تا د حسن ځوانې شپې را په یاد
راته روژه، راته برات، راته اختر مې سیزي

ته را په یاد، د تا خبرې او بانې راپه یاد
له خلکو پټ پناه، له ځان سره اکثر مې سیزي

ته را په یاد، ستا دې محل کې افسانې راپه یاد
اوس دغه ښارې، دغه دښتې، دغه غر مې سیزي

ته را په یاد، ستا د خندا موسکا صحنې راپه یاد
خو ورکتې نه شم، ورګورم چې نظر مې سیزي

ته را په یاد، ستا بیکسیاره ترانې راپه یاد
چې دومره سوی، رب به څنګه په محشر مې سیزي

(بیکسیار عبدالمالک، لکه خوب هغه وختونه، ډنمارک، ۲۰۱۳ زکال، ۹۹ ــ ۱۰۰ مخونه)

د بېکسيار د شعر د منځپانګې په باب په لنډ ډول ما لا ېخوا ويلي و او اوس هم په هماغه نظر يم چې بيکسيار په خپل شعر کې هيڅکله وطن، د وطن حالات او په وطن کې شته نا خوالې نه دي هېرې کړي او د اروپا په شرايطو کې هم، دی د وطن په وير، ويرمن دی او ورته ژاړي.

يوازې ما او بيکسيار نه، بلکې ډېرو نورو شاعرو او غير شاعرو مهاجرو به دا جمله يو ځل نه، څو ـ څو ځلې اوريدلې وي:

**«عيش دې کړی دی، په اروپا کې ژوند کوې!»**

د دې جملې ويونکي پر دې نه دي خبر چې د اورپايي عيش تر شا نورې څومره ضد عيش ناخوالې پرتې دي، پر هغو به نه غږيږم، شاعر بيکسيار سره له دې چې د همدې عيش؟ دايره کې ژوند کوي، خو د خپل وطن ناخوالې او خونړی پيښې يې د زړه په سترګو ليدلې اوريدلې او حس کړې دي او بيا يې په تراژيکو هنرمندانه تورو باندې انځور کړې هم دي. بيکسيار په اروپا کې داسې عيش؟ هم کړی دی:

راتــه مـخـکـې پـرتـې لارې، اوښـکې وينې
وهــې سـترګـو نــه مـې دارې، اوښـکې وينې

د هـا پـورې تشـې خـونې پـه زړه څـه بـه؟
چې يې ور، غـولـې، هـنـدارې، اوښـکې وينې

ستـا پـرده دموکـراسې ده، تـه مـعـلوم يې
ستا مسلک مرګی، ستـا چارې، اوښـکې وينې

دوه «بې دوه پنځوس» دا اوس ترينه واپس شوې
د ګــودر غـــاړې شــوديـــارې، اوښـکې وينې

د غــم داســـې قـــافـلـــه دلـتــــه راغـلــې
دښتې، غـــرونـه او هـــوارې، اوښـکې وينې

ستـا بـيـرې د ظـلـم ډوبــه بــه کـړې وخـتـه
دا پــه سترګــو کـې ايسـارې، اوښـکې وينې

د زمـــان فــرعـون تــه يو موسی په کار دی
بـيـکسياره! څــو بـــه شــمـارې، اوښـکې وينې

(لکه خوب هغه وختونه، ۱۱۴ ام مخ)

بيکسيار خپل مخاطبين د خپل شعر په وزرو سفرونو ته هم بيايي. دی د شعر د يو ښه تعريف پر اساس (شعر يوه نا پيژندلې هيواد ته سفر دی.) په خپل شعر کې داسې څه بيانوي چې لوستونکی په رېښتيا يوې نا پيژندلې سيمې يا هيواد ته بيايي:

ور لاندې سر نيسم، د غم کانې پرې پاس اچوم
لـکـه مـاشـوم پـه رنـګـانـو پـسې لاس اچوم

دا ځل که راغی اشنا ړدمه په مړوند ورته سر
تـورې تـمـبې بـه دروازو تـه د وسواس اچوم

اوبـه د رحـم د اشـنـا پـه زړه چې رانـغلې هيڅ
مـاشوم هوس ته بـه مجبور قيضه د اس اچوم

کـډې مې بـار دي ځم روان يمه د وير له کلي
د غم کيسي تـه کـلـکـه غوټـه د والـنـاس اچوم

نـور بـيـکسياره هسي تـشي قـافـيي نـه پـيـيم
نـور شاعری تـه مې لـړ مالګه د احساس اچوم

(لکه خوب هغه وختونه، ۵۲ ام مخ)

د پرديس ادب اړخونه که له پېښوره راواخله، ترماسکوه پورې، بيا اروپا او په ګرده نړۍ راوسپړې او اړخپراړخ يې کړې؛ هماغه د نستالژيکو يادنو توفانونه په مخه درځي، د همدې نستالژيکو توفانونو په څپوکې زه بېکسيار د پرديس ادب په مخکښانو کې ياد شاعر او ليکوال ګڼم. دې خبرې ته ګران دوست ارشاد رغاند هم يو ځل اشاره کړې وه او ويلي يې وو چې:

«بېکسيار صاحب له شک پرته زموږ د تبعيدي شاعرۍ له مخکښانو دی...»

بيا يې يو شعر د بېلګې په ډول وړاندې کړی او تر شعر مخکې يې ورته ليکلي دي چې:

«... دا شعر خو يې ما لسګونه ځله لوستی او هر ځل را ته نوی و!»

دا هم د بېکسيار «بېوطني» چې زه د ټولو بېوطني ورته وايم او د هر پروطن مېن افغان د زړه اواز يې ګڼم:

## بې وطني

بې وطني د کامې ګوړه نده
خواږه يې ستوني ته ور وځنځوه
بادام، پيستې يې ورپسې وژويه
په کټ کې ډډه شه نصوار واچوه!
بې وطني لکه د اوړي روژه
حلق به دې وچ، خوله به دې تل ترخه وي
زړه به دې تل خپه وي
او سوال به دا نه وي چې ولې خپه؟
غټ سوال به داوي چې په څه خپه وي؟
خو ځواب هيڅکله به هم نه مومې
زه مساپر که نه وای
ما به د يونګ، سارتر، فرويد خبرې
د لاشعور مقولې
کله په ژوند کې هم منلې نهوای
خو اوس دا هيڅ بې هيڅه
چې مدام خوړين زړه ګرځم
بله لار نه لرم مجبور چې لاشعور ته به پنا وروړمه
او لټوم به يکي خپل د ځيګرخون عوامل
بې وطنۍ کې به مدام ستړی يې
ستړی پدې مانا نه
چې ته به کار نه کوې
بې وطنۍ کې خو به ستا بل نوم پنديماما وي
خو ته مدام به ستړی

ژوند ته شیمه به دې نه
څه ته هوس به دې نه
څه ته اسره به دې نه
سترګې به يې که نه يې؟
خو ته زړه سترګې به يې
چرتونو وړی به يې
له سبا تمه به دې غوټه وي په توره چاره
لکه سبا چې هېڅ راتلونکي نه وي
سم لکه مړی به يې
بې وطني لکه یو څه درنه ورک
بې وطني لکه په لټه د یو څه کې روان
بې وطني لکه په ځار کې د څه
بې وطني لکه مدام په انتظار کې د څه
بې وطني لکه مدام چې اوس پېښېږي به څه
که هېڅ هم نه کېږي خو ته وايي چې کېږي به څه
بې وطنی کې به هر هر څه دريادېږي درته
داسې ځيزونه، که وطن کې وای هم
په تمام ژوند کې به دې کله ورپام شوی نه و
داسې کسان به دريادېږي، که وطن کې هم وای
په یوه پوله یا کوڅه، لاره کې
مخامخ شوي هم وای
نو بې سلامه به تېر شوي سره
زما دا تېرې د روژې څو ورځې
د بس تم ځای سره د جوخت هزارګي نانوايي
په ياد، سوچو تېرې شوې
چېرې به وي، ځنګه به وي، څه به کوي؟ خومره زوړ شوی به اوس
ژوندی به وي که به مسعود وي حلال کړی د افشارو جنګ کې؟
که زه ورمخ شم ما به وپېژني؟
ښه پوهېدم چې زه يې نه خوښېدم
او ما په خپلو سترګو ځوځلې ليدلی و چې
ماته له اړخه به يې
دوه درې سرې ډوډۍ هم
را ګډولې په تازه پخو کې
بې وطنی کې به دې هر څه ته سودا وي مدام هېڅ بې هېڅه
ياني چې خوشې چټې
زه یوه ورځ ماخستن
سم لېونی غوندې شوم
بس دا سودا راسره مل شوه چې د کلي وياله وچه به وي؟
که به اوبه کې راځي؟
ښه راته پته چې وطن کې سمه نيمه شپه به
یوه ترورزي پسې مې زنګ وواهه
او ترې تپوس مې وکړ
بيا له بښنو او عذرونو وروسته
چې خدای پامان مو ووې

زما سودا شوه چي د کلي مخته
هغه زړه د شوراتوتو ونه
چي يوه ښاخ يي د کلا پر دېوال سر ايښی و
وي لا ولاړه که به وړي زمانو ځان سره؟
بېرته مي بيا ترورزي ته زنګ ورواهه
بيا تر ښښنو او عذرونو وروسته بيا خدای پامان
شيبه لا نه وه تېره
بيا مي سودا شوه د مکتب د مخي
زوړ دوکاندار ته چي به مړ که ژوندی؟
ما وي ترورزی خو به لا نه وي ويده
خو داخل ځومره مي زنګونه چي ترورزي پسي ور وډنګول
ترورزي قسم وکړ چي خدای که به شي
سر ځلورم کال يي شو
د دوکاندار مړي - ژوندي کي د ترورزي مړی - ژوندی رانه غيب
ای ته پوهېږې چي وطن يانې څه؟
وطن د تا د تن او ځان قواله
ستا د ضمير او د وجدان قواله
وطن د تا د هر ارمان قواله
د تا د مينې د جانان قواله
وطن د تا د موجوديت پر هرزمان قواله
سر به دي څه در خوړوم، لنډه - اوږده يي دا چي
وطن د تا د عقيدې او د ايمان قواله.

https://www.facebook.com/irshad.raghand.35/posts/pfbid02bHeVwdzuEVmjE-xyf5qBjSkEBftuaMBVCajsUpUDJbD1ZFdyotUvZ4tkCrxi-kXqejl?from_close_friend=1&notif_id=1767862092900154&notif_t=close_friend_activity&ref=notif

که د بېکسيار شاعري په منظمه توګه له لومړی ورځې، بيا تر نن پورې مطالعه شي، وبه ليدل شي چي دی په تصوير جوړونه کي او د خپل فکر په لېږد کي بريالی او مخ په بره روان دی.

بيکسيار د پښتو ژبې په خزانه کي درې نور قيمتي غمي وراضافه کړل او د خپلو نورو شعري ټولګو د تخليق او خپرولو ترڅنګ، د پښتو ژبې د تخليق او شاعری پر ديواله باندې، نوې زرينې خښتې ور کېښودې.

په پای کي د دې خبرې يادول اړين ګڼم چي زموږ د وطن د پنځوسو ورستيو کلنو په اوږدو کي، د افغانانو د ژوند په ټولو برخو کي بېشمېره ستونزې او ګډوډی رامنځته شوي دي؛ اوس د فکري او فرهنګي پاشلتيا درونډ بار زموږ فرهنګيانو او قلموالو ته ورلهغاړې دی؛ په داسي حالت کي بېکسيار خپلو مخاطبينو ته، په تېره د نوي نسل لهپاره څه ډول فکر کړی او څه ډول نظريات يي رامنځته کړي دي چي دوی ته په دومره تياره ماحول کي ډيوه په لاس ورکړي او د خلاصون لار ورتهوښيي. د دې پايله هغه وخت ترلاسه کېدای شي چي د بېکسيار اثار په ځير سره ولوستل شي؛ د ده همدې اثارو ته زه **د بېکسيار ميراث** وايم.

وروستۍ خبره دا چي ما بيکسيار ته د ده د فرهنګي خدمتونو په پار، خپل يو کتاب (د ډنمارکي فرهنګ ځوغوره بېلګې، دويم ټوک) ډالی کړی دی. هغه توري چي د هغو په لوښو که ما خپله ډالی وړاندي کړې ده، داسي دي:

**«اِهدا :**

**گران‌دوست عبدالمالک بېکسیار ته چې د خپلو نورو فرهنګي هڅو تر څنګ يې، د ډنمارک په تعليمي نصاب کې د پښتو شعر او لنډيو ډيوه بله کړې ده.»**

**بېکسيار ته له ښې روغتيا سره**
**د اوږده عمر داسې هيله کوم چې**
**تل د شاعرانه احساس په ملتيا، له**
**خوښۍ، ترنم او رڼاوو سره مل وي!**

www.af.dawatmedia24.com